# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

## AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com　　www.afgazad.com

| سیاسی | Political |
| --- | --- |

ويکتور خارا

ژباړه: فرهاد وياړ

۲۵ اگست ۲۰۱۲

# بی ځمکه جنګيالی

غواړم د «کوريدو» مکزيکي ترانه ووايم
کوريدو هغه سړی چې جګړې ته لاړ
هغه سړی چې لت پت په وينو غره ته لاړ
څو خپله ځمکه فتحه کړي.
يو انقلابي، هر چيرې چې وي
د خپل ټوپک له مردکيو
له مرګ سره مخامخ کيږي
جنرال مونږ ته وويل:
«جګړې ته د پای ټکی کيږدئ
کله چې موکه راورسيږي
تاسو ته به ځمکه درکړم.»
بابا مې په کروندو کې دياړی مار و
زه يو انقلابي
زوی مې د يوه پلورنځي شاګرد
او لمسي مې د دولت مامور.
اميليانو زاپاتا (۱) چيغه کړه:
«زه ځمکه غواړم او آزادي»
خو د ځواک مالکانو
د هغه پر دې خبرې وخنديدل.

والوزه، کوچني کوترې والوزه او
د انځير له هغه ونې سره کښېنه.
دلته نوره حماسه پای ته رسيږي:
د بې ځمکه جنګيالي حماسه.

۱. د «ځمکې او آزادي» له شعار سره د مکزيک د دهقانی انقلاب لارښود (۱۸۷۹ ــ ۱۹۱۹)